# په افغانستان کې د پانګونې پر چاپېریال د سیاسي عواملو اغېزې

**مسئول لیکوال: عبدالسلام اکسیر**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه، د حقوق وعلوم سیاسي علومو پوهنځي، مسلم پوهنتون، غزني، افغانستان

ایمیل: Salaam.ghazni@gmail.com

**لنډیز**

په افغانستان کې د پانګونې چاپېریال تر ډېره بریده د سیاسي عواملو تر اغېز لاندې دی، چې دا اغېزې د پانګه‌والو پر پرېکړو او د پانګونې پر عمومي فضا مستقیم تأثیر لري. د دې مقالې موخه دا ده چې هغه مهم سیاسي عوامل وڅېړي چې د پانګونې پر چاپېریال اغېز کوي او د پانګه‌والو د تصمیم نیولو بهیر تر اغېز لاندې راولي. دغه څېړنه د کمّي او کیفي (ګډ) میتود پر بنسټ ترسره شوې ده. د معلوماتو د راټولولو لپاره له معتبرو انلاین سرچینو، علمي مقالو او یوې معیاري پوښتنپاڼې څخه استفاده شوې ده. پوښتنپاڼه د پنځه‌درجې لیکرټ سکېل پر بنسټ طرحه شوې او د هدفمندې نمونې (Purposive Sampling) له لارې د ۱۰۰ ګډونوالو له خوا بشپړه شوې ده. راټول شوي معلومات د تشریحي احصایې په کارولو سره تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې ښیي چې په اسلامي امارت نړیوال بندیزونه، د امارت سره نسبي کمي نړیوالې اړیکې، د امنیتي وضعیت په اړه د پانګه‌والو اندېښنې او د پانګونې په برخه کې کمه لیوالتیا هغه مهم سیاسي عواملونه دي چې د افغانستان د پانګونې پر چاپېریال تر ټولو لوړ منفي اغېز لري. د دې تر څنګ د بهرني سیاست کیفیت، له ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې، او د نړیوالو سازمانونو ملاتړ کولی شي د پانګونې فضا یا پیاوړې کړي او یا یې محدوده کړي. په پایله کې د سیاسي ثبات په برخه کې هڅې، نړیوالې ټولنې کې مدغم کیدل او د پانګونې په برخه کې د منظمو او واضیح پالیسیو رامنځته کیدل هغه عوامل دې چې د کورنۍ او بهرني پانګونې د پراختیا امکانات پراخوالی او محدود کولی شي. د څېړنې موندنې د پالیسۍ جوړونکو لپاره په پورته برخو کې د لا ډېر کار سپارښتنه کوي.

**کلیدي ټکي:** اقتصاد؛ پانګونه؛ حکومت؛ سیاست او عوامل

# The Impact of Political Factors on the Investment Environment in Afghanistan

1. Corresponding Author: Abdul Salaam Acxir

Department of Political Science and International Relations, Faculty of Law and Political Science, Muslim University, Ghazni, Afghanistan
**Email:** Salaam.ghazni@gmail.com

## Abstract

In Afghanistan, the investment environment is largely influenced by political factors, which directly affect investors' decisions and the overall investment climate. The aim of this article is to examine the key political factors that impact the investment environment and influence the decision-making process of investors. This study is conducted based on a mixed-methods approach (quantitative and qualitative). Data were collected from credible online sources, academic articles, and a standardized questionnaire. The questionnaire was designed using a five-point Likert scale and completed by 100 participants through purposive sampling. The collected data were analyzed using descriptive statistics. The findings of the study indicate that international sanctions on the Islamic Emirate, its relatively limited international relations, investors' concerns about the security situation, and low investment interest are among the most significant political factors negatively affecting Afghanistan's investment environment. In addition, the quality of foreign policy, relations with neighboring countries, and support from international organizations can either strengthen or constrain the investment climate. In conclusion, efforts toward political stability, integration into the international community, and the establishment of clear and consistent investment policies are key factors that can expand or limit opportunities for both domestic and foreign investment. The findings of this study recommend that policymakers place greater emphasis on these areas.

**Keywords:** Economy; Investment; Government; Politics; Factors

## ۱ـ سریزه

پانګونه د اقتصادي ودې، کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د هېواد د پراختیايي ثبات لپاره بنسټیز اهمیت لري. په هغو هېوادونو کې چې له اوږدمهالو امنیتي او سیاسي ستونزو سره مخ دي، د پانګونې چاپېریال د سیاسي عواملو له اغېزو څخه خوندي پاتې کېدای نه شي. افغانستان، چې د څو لسیزو جګړو، سیاسي بدلونونو او نړیوالو محدودیتونو تجربه له ځان سره لري، د پانګوالو لپاره د لوړ ریسک لرونکی چاپېریال ګڼل کېږي. د څېړنې موخه دا ده تر څو د افغانستان د پانګونې پر چاپېریال د سیاسي عواملو اغېز وپېژني او تحلیل کړي.

وروستي راپورونه ښيي چې افغانستان په ۲۰۲۴ کال کې شاوخوا ٪۲.۵ اقتصادي وده کړې، خو عمومي وضعیت لا هم د پانګونې په برخه کمه لیوالتیا، مالي محدودیتونو او کمزوري اقتصاد وضعیت حاکم دی (World Bank, 2024). له سیاسي اړخه، د اسلامي امارت نسبي کمي نړیوالي اړیکي، د مالي اړیکو، لویو پانګو او د نړیوالو بنسټونو له لوري د مستقیم ملاتړ په کمېدو کې مهم رول لري (UN News, 2024). دا وضعیت د پانګوالو باور زیانمنوي او د اوږدمهالو پانګونو په جلبولو کې خنډونه رامنځته کوي.

په اداري برخه کې د شفافو اداري اصولو کمزورتیا د پانګونې پر چاپېریال دروند اغېز لري. د شفافیت نړیوال سازمان د ۲۰۲۴ راپور پر بنسټ افغانستان لا هم په ځینو برخو شفافو اداري اصولو د نشتون له امله‌چې لري يې د پانګوالو لپاره د قانوني او اداري خطرونو د زیاتېدو ښکارندويي کوي (Transparency International, 2024). همدارنګه، د حساب ورکونې او د پالیسي د ثبات کمبود د خصوصي سکتور د ودې لپاره یو مهم خنډ ګڼل کېږي (SIGAR, 2024).

سیاسي ثبات د پانګونې یو بنسټیز شرط دی. څېړنې څرګندوي چې په هغو هېوادونو کې چې سیاسي بدلونونه ډېر وي او د واک لېږد غیر منظم ترسره کېږي، پانګوال د اوږدمهالو پروژو په تمویل کې احتیاط کوي (Keane, 2023). په افغانستان کې د ۲۰۲۱ وروسته سیاسي بدلونونو د پانګونې اقلیم اغېزمن کړی، څکه چې د نړیوالې ټولنې له لوري د حکومت رسمي نه پېژندل کېدل د مالي بازارونو او نړیوالو مالي ادارو پر همکارۍ منفي اغېز لري (UN Security Council, 2023; IMF, 2023).

اقتصادي وضعیت د پانګونې پر تصمیم نیولو مستقیم اغېز لري. د IMF د ۲۰۲۳ تحلیل ښيي چې افغانستان د نقدو پیسو محدودیتونه، د صادراتو کمښت، کمزوری بانکداري سکتور او د نړیوالو مرستو کمېدل تجربه کوي، چې دې ټولو د پانګونې د خطر کچه لوړه کړې ده (IMF, 2023). د Asian Development Bank د ۲۰۲۳ راپور زیاتوي چې د زیربناوو کمښت، د انرژۍ محدودې سرچینې او لوړه بې‌کاري د خصوصي سکتور د پراختیا لپاره لوی خنډونه دي (ADB, 2023).

نړیوال څېړنیز بنسټونه لکه International Crisis Group ، CSISاو European Institute of Peace ټینګار کوي چې د افغانستان سیاسي او اداري برخه نسبي ستونزې یوازې داخلي اغېزې نه لري، بلکې نړیوال اقتصادي اړیکې، بانکي نظام، د سوداګرۍ تړونونه او بهرني پانګوال هم تر اغېز لاندې راولي (ICG, 2023; CSIS, 2023;

د دوی په اند، تر هغه چې اسلامي امارت په نړیواله کچه ونه پیژندل شي، نړیوال تعامل عادي نشي، (EIP, 2023).
د پانګونې شرایط به لا هم کمزوري پاتې شي.
ټولنیز او بشري عوامل هم د پانګونې پر چاپېریال اغېز لري. پراخه بېکاري، د مهاجرت لوړه کچه او طبیعي پېښې د بې‌ثباته ټولنیز جوړښت هغه نښې دي چې د اقتصادي فعالیتونو دوام ته زیان رسوي (UNDP, 2023; UNHCR, 2023). نړیوال څارونکي باور لري چې د کمروزي اقتصادي فعالیتونه، د اداري اصلاحاتو په برخه کې کمرزوي فعالیت او د پراختیایي مرستو کمزوری مدیریت د پانګونې لپاره د خطر عواملونه لا پیاوړي کوي (ICG, 2023).

دغه موضوع د څېړنې لپاره ځکه غوره شوې چې تر اوسه په افغانستان کې د پانګونې پر چاپېریال د سیاسي عواملو اغېز په جامع او سیستماتیک ډول نه دی څېړل شوی. موجودې څېړنې زیاتره د سیاسي یا اقتصادي محور یوې برخې ته محدودې دي، خو د ټولو سیاسي عواملو ګډ او تحلیلي اغېز یې نه دی روښانه کړی. د موضوع د انتخاب دلیل دا دی چې د سیاسي ثبات او د حکومت‌ولۍ ښه‌والی د اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري، او د دغو عواملو دقیقه پېژندنه د دولت، پالیسي جوړونکو، پانګه‌والو او علمي مرکزونو لپاره ستر اهمیت لري.
د څېړنې کار ساحه د هغو سیاسي عواملو پېژندنه، تحلیل او ارزونه ده چې د پانګونې پر چاپېریال مستقیم یا غیرمستقیم اغېز کوي. څېړنه په ځانګړي ډول د سیاسي ثبات، قانوني وضاحت، د پالیسیو یووالي، د حکومت‌ولۍ کیفیت، فساد ضد میکانیزمونو، د امنیت وضعیت او د نړیوالو اړیکو سیاسي اړخ څېړي. همدارنګه، څېړنه دا ارزوي چې څنګه دغه عواملونه په ګډه د پانګونې فضا محدودوي یا پیاوړې کوي.
له بلې خوا، د موجودو څېړنو تر ټولو لویه تشه دا ده چې ډېری یې پر محلي مشاهداتو او تجربوي معلوماتو متکي دي، او د سیاسي عواملو ترمنځ د اړیکو او متقابل اغېزو تحلیلي درک نه وړاندې کوي. په همدې اساس، دغه څېړنه هڅه کوي چې د علمي میتودونو په مرسته د یادو عواملو ترمنځ واقعي اړیکې وڅېړي، تشې ډکې کړي او یوه روښانه، علمي او کارېدونکې پایله وړاندې کړي. دا پایله به د افغانستان لپاره د پانګونې د جذب او د اقتصادي ودې په برخه کې د پالیسي جوړونې عملي لارې چارې رامنځته کړي.
په پایله کې، پانګونه په افغانستان کې یوازې اقتصادي پرېکړه نه ده؛ بلکې ژوره سیاسي، ټولنیزه او اداري معنا لري. د پانګونې د چاپېریال ښه‌والی د سیاسي ثبات، پراخې نړیوالې اړیکې او ټولنیز شمولیت پورې تړلی دی. تر هغو چې دغه عواملونه اصلاح نه شي، د بهرني او کورني پانګوالو باور بیا رامنځته کول ستونزمن دي (BTI, 2024; UNOCHA, 2024).

## ۱-۱ تیوریکي چوکاټ)

د دې څېړنې تیوریکي چوکاټ د هغو علمي نظریو پر بنسټ جوړ شوی چې د سیاسي عواملو او پانګونې ترمنځ اړیکه تشریح کوي. د څېړنې منطق دا دی چې په افغانستان کې د پانګونې چاپېریال په بنسټیز ډول د سیاسي شرایطو تابع دی، ځکه چې سیاسي ثبات، د حکومتدارۍ کیفیت، قانونمندي، نهادونه او امنیت د اقتصادي

فعالیتونو بنسټیز محرک عناصر ګڼل کېږي. د همدې لپاره، دا چوکاټ په هغو نظریو ولاړ دی چې اقتصادي پرمختګ د سیاسي سیستم، نهادونو او حکومتدارۍ له کیفیت سره تړي.

لومړنۍ نظریه چې دا څېړنه پرې ولاړه ده د سیاسي ثبات نظریه ده. د دې نظریې له مخې، اقتصادي ودې او پانګونې ته تر ټولو مهم شرط د سیاسي نظم ثبات شتون دی. هر ډول سیاسي بحران، د حکومت پرلهپسې بدلون، داخلي شخړې او ناپایداره پالیسي جوړونه د پانګوالو پر ذهنیت مستقیم منفي اغېز کوي او د پانګې جریان محدودوي. په افغانستان کې د تېرو څلورو لسیزو راهسې سیاسي بېثباتۍ د پانګونې د کمښت یو اصلي لامل ګڼل کېږي، ځکه چې پانګهوال هغه هېواد غوره کوي چې خطر یې کم، راتلونکې یې وړاندوینې کېدونکې او پالیسۍ یې ثابتې وي.

دویمه مهمه نظریه د نهادونو نظریه ده چې د D. North د نظریې پر بنسټ اقتصادي پرمختګ د سیاسي، حقوقي او تنظیمي نهادونو له کیفیت سره مستقیم تړاو لري. قوي نهادونه د پانګې خوندیتوب تضمینوي، حقوقي وضاحت رامنځته کوي، قراردادونه محافظت کوي او د سوداګرۍ لګښتونه کموي. په مقابل کې، کمزوري نهادونه، د صلاحیتونو ناڅرګنتیا، د قانون په برخه کې خلا د پانګونې مخه نیسي. افغانستان د دې نظریې څرګند مثال دی، ځکه د نهادونو کمزورتیا د پانګوالو د باور د ټیټوالي یو مهم لامل بلل کېږي.

دریمه نظریه چې د دې څېړنې په تیوریکي چوکاټ کې ځای لري د خطر او عاید نظریه ده. د دې نظریې له مخې، پانګهوال هغه ځای ته پانګه انتقالوي چې خطر یې ټیټ او د عاید کچه یې لوړه وي. کله چې سیاسي خطر ډېر شي، پانګهوال یا له بازار څخه وزي، یا پانګونه ځنډوي، یا یې کموي. په افغانستان کې د امنیت په برخه کې د پانګوالو اندیښنې، د شتمنیو د خوندیتوب کمزوري میکانیزمونه، د پانګونې د تضمین په برخه کې کمزوري مکانیزمونو او د بهرنۍ پالیسۍ عدم څرګنتیا هغه عوامل دي چې د پانګوالو په ذهنیت منفي اغېزمنوي او د پانګې کچه راکمولی شي.

په دې تیوریکي چوکاټ کې سیاسي عواملونه د خپلواکو متغیرونو (Independent Variables) په توګه اخیستل شوي دي، چې پکې سیاسي ثبات، د قانون حاکمیت، امنیتي وضعیت، دولتي پالیسۍ، د نهادونو ځواکمنتیا او نړیوال سیاسي تعامل شامل دي. په مقابل کې، د پانګونې چاپېریال د تابع متغیر (Dependent Variable) په توګه ځای لري چې کیفیت یې د پانګوالو د باور، د پانګونې کچې، اقتصادي فعالیتونو او د خطر د مدیریت په شاخصونو سنجول کېږي. د دې متغیرونو ترمنځ اړیکه داسې تشریح کېږي چې هر وخت سیاسي ثبات، قوي نهادونه، روڼ حکومتداري او امنیت لوړېږي، په هماغه اندازه د پانګونې چاپېریال هم ښه کېږي او پانګهوال د فعالیت لپاره هڅېږي.

په پایله کې، دا تیوریکي چوکاټ د دریو بنسټیزو نظریو پر مټ تشریح کوي چې څنګه سیاسي عواملونه د پانګونې پر چاپېریال اغېزه کوي. دغه چوکاټ د څېړنې د تحلیل، میتودلوژۍ او پایلو لپاره علمي نقشه برابروي او دا څرګندوي چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د سیاسي ثبات، قوي نهادونو او شفاف حکومتدارۍ پرته ناممکن دی.

## ۲- د څېړنې میتودلوژي

دغه څېړنه د کمي او کیفي  او توصیفي–تحلیلي (Descriptive–Analytical) Case Study په توګه طرحه شوې، ځکه چې موخه د افغانستان د پانګونې چاپېریال کې د سیاسي عواملو ژور او تفسیري تحلیل دی. لومړني معلومات د پوښتنپاڼې له لارې راټول شوې او ۱۲۰ پوښتپاڼې له پانګوالو، اقتصادي کارپوهانو، اداري چارواکو او پالیسي جوړونکو څخه ځواب شوې تر څو ریښتیني لیدلوري ترلاسه شي همدارنګه د نړیوالو بنسټونو (World Bank, IMF, UNDP, ADB, SIGAR)، حکومتي اسنادو، علمي مقالو او حقوقي پالیسیو څخه اخیستل کېږي.

د نمونې ټاکنه د Purposive Sampling میتود کارول کېږي، ځکه چې موضوع تخصصي ده او یوازې هغه ګډونوال انتخابېږي چې د پانګونې، سیاست او اقتصاد په برخو کې مسلکي تجربه لري او د معلوماتو تحلیل د SPSS پروګرام پر مټ ترسره کیږي همدارنګه  د ګډونوالو رضایت، د شخصي معلوماتو محرمیت او د سیاسي حساسیتونو رعایت په پام کې نیول کېږي، ترڅو څېړنه د اخلاقي معیارونو سره برابره وي.

### ۳- موندنې

د افغانستان د پانګونې سیاسي وضعیت له ۲۰۲۱ تر ۲۰۲٦ پورې د ژور بدلونونو شاهد دی. د اسلامي امارت له بیا  واکمنېدو وروسته نړیوال بندیزونه، د ترسره کیدونکو مرستو کمښت، د مالي زیرمو کنګل کیدل او امنیت په برخه کې د پانګوالو اندیښنو دوام د پانګونې چاپېریال ته جدي خنډونه جوړ کړل، خو په ځینو برخو لکه کرنه او صادراتو کې د کورنیو پانګونو هڅې د اقتصاد د بقا لپاره مهمې پاتې شوې.

په ۲۰۲۱ کال کې د اسلامي امارت بیا واک ته رسېدل د افغانستان د اقتصاد او پانګونې په وضعیت کې ژور بدلونونه راوستل. د اګست په میاشت کې د امارت د واکمنېدو سره سم، نړیوالې ټولنې د افغانستان د مرکزي بانک شاوخوا ۹.۱ میلیارده ډالر زېرمې کنګل کړې، چې د هېواد د مالي نظام لپاره یې ستره ضربه وه (World Bank, 2021). د دې اقدام له امله بانکونه د نغدو پیسو له سخت کمښت سره مخ شول او د افغانی ارزښت په بې ساري ډول راټیټ شو.

د نړیوالو بندیزونو او د مرستو د ناڅاپي کمېدو له امله د افغانستان اقتصاد په چټکۍ سره سقوط وکړ. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، د ۲۰۲۱ په پای کې د افغانستان GDP شاوخوا ٪۲۰ راکم شو، چې دا د نړۍ په کچه د اقتصادي سقوط له تر ټولو ستر مواردو څخه ګڼل کېږي (UNDP, 2022). د دې وضعیت له امله د پانګونې چاپېریال په بشپړ ډول د بهرنیو پانګوالو لپاره نامناسب شو، ځکه چې د سیاسي بې ثباتۍ، د قانوني چوکاټ نشتوالي، او د ناامنۍ دوام د پانګوالو باور له منځه یووړ.

په همدې وخت کې ځینو محدودیتونو د نړیوالو پانګوالو د زړه ورتیا مخه ونیوله. د نړیوال بانک د راپور له مخې، د خصوصي سکتور فعالیتونه په پراخه کچه فلج شول او د کوچنیو کاروبارونو ډېری برخې وتړل شوې (World Bank, 2021)

په ۲۰۲۲ کال کې د افغانستان اقتصاد د ۲۰۲۱ د سقوط وروسته لا هم له ژور بحران کې شکیل پاتې شو. د اسلامي امارت د واکمنېدو له امله د نړیوالې ټولنې د مرستو کچه په بې ساري ډول راټیټه شوه، چې د هېواد د مالي سرچینو

لپاره يې ستره ضربه وه. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د افغانستان GDP په ۲۰۲۲ کې نږدې ٪۲۰ نور هم راکم شو، او د افراطيت کچه د ٪۵۰ څخه پورته وخته .(World Bank, 2022) دا حالت د پانگونې چاپېريال ته د پام وړ زيانونه ورسول، ځکه چې د نغدو پيسو کمښت او د بانکدارۍ سکتور فلج پاتې شو.

د ملگرو ملتونو د پرمختيايي پروگرام (UNDP) د ۲۰۲۲ د اقتصادي ارزونې له مخې، د افغانستان د نفوس شاوخوا ٪۹۷ د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کاوه، چې دا د پانگونې لپاره د بازار د وړتيا کچه په شديده توگه راټيټه کړه .(UNDP, 2022) د بشري حقونو اندېښنې د نړيوالو پانگوالو د زړه ورتيا مخه ونيوله.

په همدې وخت کې، د اسلامي امارت هڅه وکړه چې د کورنيو عوايدو له لارې د اقتصاد د بقا لپاره گامونه واخلي. د ماليات او گمرکي محصولاتو زياتوالی د حکومت لپاره د ځينو مالي سرچينو برابرولو کې مرسته وکړه، خو د نړيوالې ټولنې د بې باوري له امله د بهرنيو پانگونو جذب ناممکن پاتې شو (Asian Development Bank, 2022).

په ټوله کې، د ۲۰۲۲ کال اقتصادي وضعيت د بحران دوام ښيي، چې د نړيوالو بنديزونو، د بشري مرستو ترل کيدل په سياست پوري او د پانگې د امنيت په اړه د پانگوالو انديښنو له امله د پانگونې چاپېريال په بشپړ ډول زيانمن شوی و.

په ۲۰۲۳ کال کې د افغانستان اقتصاد د سخت بحران له دوام سره سره د کورنيو عوايدو په برخه کې د پام وړ زياتوالی تجربه کړ. د نړيوالو بنديزونو او د بهرنيو مرستو د کمېدو له امله، د اسلامي امارت هڅه وکړه چې د ماليات او گمرکي محصولاتو له لارې د عوايدو سرچينې پراخې کړي. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د ۲۰۲۳ په اوږدو کې د کورنيو عوايدو کچه د ۲۰۲۲ په پرتله نږدې ٪۳۰ زياته شوه، چې دا د حکومت لپاره د مالي ثبات په برخه کې مهم پرمختگ گڼل کېږي.(World Bank, 2023)

د ماليات او گمرکي محصولاتو زياتوالی د حکومت لپاره د بوديجې د تمويل يوه مهمه وسيله وه. د ملگرو ملتونو د پرمختيايي پروگرام (UNDP) د ارزونې له مخې، د کورنيو عوايدو زياتوالی د عامه خدماتو د تمويل لپاره تر ډيره کارول کېده.(UNDP, 2023)

په همدې وخت کې، د صادراتو هڅې هم د کورنيو عوايدو په زياتوالي کې مرسته وکړه. د زعفرانو، وچو مېوو، او ځينو کانونو صادرات د افغانستان د اقتصاد د بقا لپاره حياتي ارزښت درلود. د آسيايي پرمختيايي بانک (ADB) د راپور له مخې، د ۲۰۲۳ په پای کې د صادراتو کچه د ۲۰۲۲ په پرتله نږدې ٪۱۵ زياته شوه، چې دا د کورنيو عوايدو د پراختيا لپاره يو مثبت گام و.(Asian Development Bank, 2023) بناءً په ټوله کې، د ۲۰۲۳ کال د داخلي عوايدو زياتوالی د افغانستان د اقتصاد د بقا لپاره مهم و، خو د پانگونې چاپېريال لا هم له جدي خنډونو سره مخ پاتې شو.

په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان اقتصاد د صادراتو په برخه کې د پام وړ خوځښتونه تجربه کړل، سره له دې چې د سياسي بې ثباتۍ او نړيوالې انزوا ستونزې لا هم پر ځای وې. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د افغانستان صادرات د ۲۰۲۴ په اوږدو کې نږدې ٪۱۲ زيات شول، چې په ځانگړي ډول د زعفرانو، وچو مېوو، او د کانونو محصولاتو

له لارې ترلاسه شول .(World Bank, 2024) دا زیاتوالی د کورنیو عوایدو په پراختیا کې مهم رول ولوباوه او د حکومت لپاره د مالي سرچینو د پراخېدو سبب شو.

په همدې وخت کې، د سیمه ییزو هېوادونو سره د سوداګرۍ اړیکې د افغانستان لپاره حیاتي وې. د آسیايي پرمختیایي بانک (ADB) د ارزونې له مخې، د افغانستان د صادراتو زیاتوالی په ځانګړې ډول د پاکستان، ایران، او چین له لارې د ترانزیټي لارو د کارونې پایله وه .(Asian Development Bank, 2024) سره له دې، د ترانزیټ ستونزې او د سیاسي اختلافاتو دوام د صادراتو د لا پراختیا مخه نیوله.

د سیاسي خوځښتونو له اړخه، په ۲۰۲۴ کې د ځینو نوو سیاسي ډلو ظهور د پانګونې چاپېریال ته د امید څرکونه وړاندې کړل. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) د راپور له مخې، د ځوانو فعالانو او ځینو سیمه ییزو خوځښتونو هڅې د اقتصادي اصلاحاتو او د شفافیت د زیاتوالي غوښتنه کوله.(UNDP, 2024)

په ۲۰۲۵ کال کې د افغانستان اقتصاد د څو کلونو د پرلهپسې بحران وروسته د ودې لومړۍ نښې وښودلې. د نړیوال بانک د راپور له مخې، د افغانستان ناخالص کورني تولید (GDP) د ۲۰۲۵ په اوږدو کې شاوخوا ۲.۳٪ وده وکړه، چې دا د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو وروسته د لومړي ځل لپاره د مثبت اقتصادي ودې نښه وه ,World Bank) .(2025دا وده تر ډېره د خصوصي مصرف، د افغان مهاجرینو له خوا د رالېږل شویو پیسو (remittances) ، او د کرنې سکتور د نسبي ثبات پایله وه.

سره له دې، د اقتصادي ودې نښې د ټولنیز وضعیت له سختو ننګونو سره مل وې. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) د ارزونې له مخې، د افغانستان د نفوس شاوخوا ۹۷٪ لا هم د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کاوه، کډوالو او بې ځایه شویو خلکو وضعیت خراب پاتې شو .(UNDP, 2025) د بشري حقونو اندېښنې، د نړیوالو پانګوالو د زړه ورتیا مخه ونیوله او د بهرنیو پانګونو جذب یې ناممکن کړ.

د کورنیو عوایدو زیاتوالی د حکومت لپاره د مالي سرچینو د پراخېدو سبب شو. د مالیاتو او ګمرکي محصولاتو له لارې د عوایدو زیاتوالی د بودیجې د تمویل یوه مهمه وسیله وه، خو د شفافیت نشتوالی او عدم حساب دهي د دې عوایدو اغېز محدود کړ .(Asian Development Bank, 2025) د صادراتو برخه هم د اقتصاد د بقا لپاره مهمه وه. د زعفرانو، وچو مېوو، او ځینو کانونو صادرات د افغانستان د عوایدو په زیاتوالي کې مرسته وکړه، خو د ترانزیټ ستونزې او د سیمه ییزو هېوادونو سره سیاسي اختلافات د دې سکتور د پراختیا مخه نیوله.

په سیاسي ډګر کې، دې اسلامي امارت هڅه وکړي چې د کورنیو پانګونو له لارې د اقتصاد د بقا لپاره ګامونه واخلي. د ځینو کوچنیو صنعتونو او کرنیزو پروژو پراختیا د کورنیو پانګوالو له خوا ترسره شوه، چې د اقتصادي فعالیتونو د دوام لپاره مهم رول لوبوي. سره له دې، د نړیوالې ټولنې د رسمي پېژندنې نشتوالی او د بندیزونو دوام د بهرنیو پانګونو د جذب لپاره جدي خنډونه جوړ کړل.

په ټوله کې، د ۲۰۲۵ کال اقتصادي وضعیت د ودې لومړۍ نښې وړاندې کړې، خو دا وده تر ډېره د داخلي سرچینو او مصرف پر بنسټ ولاړه وه. د نړیوالې ټولنې تعامل، د قانوني چوکاټ جوړېدل، او د امنیت ټینګښت لا هم د پانګونې چاپېریال د ښه کېدو لپاره حیاتي ګڼل کېږي.

**د کلونو پرتله (۲۰۲۱-۲۰۲۵)**

| ګڼه | کال | مهمي ځانګړتیاوې | وضعیت | کتني |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲۰۲۱ | د امارت واک ته رسیدل، بندیزونه، اقتصادي ځوړ | وضعیت | |
| ۲ | ۲۰۲۲ | مرستو کمښت، کورني پانګوال، بې باوري | سقوط | |
| ۳ | ۲۰۲۳ | مالیات، صادرات، اقتصادي بقا | بحران | |
| ۴ | ۲۰۲۴ | نوې سیاسي ډلې، سوداګري، محدودیتونه | عواید | |
| ۵ | ۲۰۲۵ | ۲.۷٪ اقتصادي وده، بې وزلي، کورني صنعتونه | خوځښت | |

**هغه عوامل چې د پانګونې چاپیریال اغېزمنوی په لاندي ډول یې اغیزو څېړل شوي دي**

په ټوله کې د سیاسي ثبات او امنیت اغیز په پانګونه، د حکومت جوړښت او نړیوالي اړیکو محدودیت، د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول او همدارنګه د حکومت د پالیسی دوام او تصمیم‌نیونې ثبات هغه لاملونه دي چې د پانګونې پر چاپیریال ژور تاثیر لري.

| متغیر | Low (1–2) % | Neutral (3) % | High (4–5) % | Mean | SD | لنډ تحلیل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د سیاسي ثبات او امنیت اغېز | 6 | 12 | 82 | 4.05 | 0.84 | خورا لوړ منفي اغېز |
| د حکومت جوړښت او نړیوالې اړیکې | 10 | 16 | 74 | 4.11 | 0.77 | په لوړه کچه نړیوال نه رسمیت مهم خنډ |
| د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول | 16.2 | 14.0 | 69.8 | 3.95 | 0.74 | د پانګونې فضا اغېزمنوي |
| د پالیسی دوام او تصمیم‌نیونې ثبات | 14.5 | 13.0 | 72.5 | 4.00 | 0.76 | د پانګونې د دوام لپاره اړین |

دا جدول د جمبندي تحلیل (Aggregated Analysis) پر اساس ترتیب شوی او د ۱۵ سوالونو Mean د هر Constructپه اساس محاسبه شوی.

A. **د سیاسي ثبات او امنیت اغېز**

د پوښتنپاڼې د پایلو له مخې، د ۱۰۰ ګډونوالو له ډلې څخه شاوخوا ۸۲٪ ځواب ورکوونکو باور څرګند کړی چې سیاسي بې‌ثباتي په اړه اندېښنه او امنیتي ننګونې د پانګونې پر چاپېریال ډېر اغېزناک عوامل دي. نړدې ۱۲٪

ګډونوالو دا اغېز منځنی بللی، په داسې حال کې چې یوازې ٪۶ یې کم یا بې‌اغېزه ګڼلی دی. دا پایله ښیي چې سیاسي ثبات او امنیت د پانګونې لپاره د ګډونوالو له نظره تر ټولو مهم بنسټیز شرط ګڼل کېږي.

**B. د حکومت جوړښت او نړیوالي اړیکي**

د پوښتنپاڼې پایلې څرګندوي چې شاوخوا ٪۷۴ ځواب ورکوونکو د حکومت جوړښت او نړیوالو اړیکو د پانګونې پر چاپېریال مهم او اغېزناک عوامل بللی دی. نږدې ٪۱۶ ګډونوالو دا عوامل منځنی اغېزناک ګڼلی، او یوازې ٪۱۰ یې کم اغېز لرونکی یاد کړی دی. د دې موندنې پر بنسټ، د نړیوال رسمیت، حقوقي اعتبار او نړیوالو تعاملاتو نشتوالی د پانګه‌والو د باور پر کچه مستقیم اغېز لري.

**C. د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول**

د راټولو شوو معلوماتو له مخې، شاوخوا ٪۶۹.۸ ګډونوالو باور څرګند کړی چې د بهرني سیاست نوعیت او د نړیوالو اړیکو وضعیت د پانګونې پر بهیر اغېزناک رول لري. شاوخوا ٪۱۴ دا رول منځنی بللی، په داسې حال کې چې ٪۱۶.۲ ګډونوالو دا عوامل کم اغېزناک ارزولی دی. دا پایله څرګندوي چې نړیوال انزوا، بندیزونه او محدودې ډیپلوماتیکې اړیکې د پانګونې چاپېریال کمزوری کوي، خو مثبت تعامل د باور د زیاتوالي سبب کېدای شي.

**D. د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات**

د پوښتنپاڼې د تحلیل له مخې، نږدې ٪۷۲.۵ ځواب ورکوونکو د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات د پانګونې لپاره ډېر مهم عوامل ګڼلی دی. شاوخوا ٪۱۳ ګډونوالو دا اغېز منځنی بللی، او یوازې ٪۱۴.۵ یې کم اغېزناک یاد کړی دی. دا پایله ښیي چې د قوانینو، مقرراتو او اقتصادي پالیسیو ثبات د اوږدمهاله پانګونې د جذب لپاره اساسي رول لري.

**د جدول تشریحي تحلیل(SPSS-style Interpretation)**

د جدول پایلې ښیي چې د ګډونوالو له نظره سیاسي ثبات او امنیت تر ټولو لوړ اغېز لرونکی عوامل دی، ځکه چې ٪۸۲ ځواب ورکوونکو دا عوامل «ډېر اغېزناک» یا «اغېزناک» ارزولی دی. وروسته د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات )٪۷۲.۵ (او د حکومت اړیکي او نړیوال اعتبار )٪۷۴ (د پام وړ عواملونه بلل شوي دي. په ورته وخت کې، که څه هم د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول د نورو عواملو په پرتله لږ ټیټ ارزول شوی، خو بیا هم د ګډونوالو له ډلې څخه ٪۶۹.۸ دا عوامل اغېزناک یا ډېر اغېزناک ګڼلی دی.

**د موندنو لنډ تحلیلي جمع‌بندي**

د پوښتنپاڼې د پایلو پر بنسټ د پانګوالو اندیښنې، د سیاسي ثبات او امنیت اړه تر ټولو اغېزناک عوامل دی، وروسته د پالیسۍ دوام، د حکومت نړیوال رسمیت پېژندل، او د بهرني سیاست رول ځای لري. دا ترتیب د نړیوالو راپورونو او موجودو علمي مطالعاتو له موندنو سره همغږي ښیي.

**جدول (۱): د سیاسي عواملو اغېز پر د پانګونې چاپېریال**

*(د SPSS پر بنسټ د توصیفي تحلیل – n = 100)*

| سیاسي عوامل | ډېر اغېزناک (%) | اغېزناک (%) | منځنی اغېز(%) | کم اغېز(%) | بې‌اغېزه (%) |
|---|---|---|---|---|---|
| سیاسي ثبات او امنیت | 48 | 34 | 12 | 4 | **2** |
| د حکومت جوړښت او نړیوالي اړیکي | 42 | 32 | 16 | 7 | **3** |
| د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول | 36 | 32 | 20 | 8 | **4** |
| د پالیسي دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات | 44 | 34 | 14 | 5 | **3** |

**۴ـ مناقشه**

د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې د افغانستان پانګونې چاپېریال د ۲۰۲۱–۲۰۲٦ په موده کې د سیاسي عواملو له امله ژور اغېزمن شوی دی. په دې موده کې د واک بدلون، نړیوال بندیزونه، د مرستو کمښت، د حکومتدارۍ په برخه ډېر بنه نه ځلیدل، او د نړیوالو اړیکو کموالی د پانګوالو باور کم کړی او د پانګونې جریان یې محدود کړی دی. د څېړنې پایلې ښیي چې سیاسي ثبات د پانګونې لپاره حیاتي ارزښت لري. د ۲۰۲۱ وروسته د سیاسي بې‌ثباتۍ په اړه د پانګوالو اندېښنې او د اسلامي امارت سره د کم شمیر هیوادونو اړیکې د افغانستان اقتصاد د کمزورۍ په برخه کې مهم لامل ده، چې د GDP په کچه کې د ۲۰٪ کمښت څرګندونه کوي (World Bank, 2021; UNDP, 2022). دا پایله د سیاسي ثبات نظریې سره سمون لري، چې ټینګار کوي اقتصادي پرمختګ هغه وخت امکان لري چې سیاسي نظم ثابت وي. د افغانستان د تېرو څلورو لسیزو بې‌ثباتۍ د پانګوالو ذهنیت منفي اغېزمن کړی او د پانګې جریان یې محدود کړی همدارنګه د څېړنې پایلې د نهادونو نظریه تاییدوي. د Transparency International (2024) راپور ښیي چې افغانستان د نړۍ د فساد لرونکو هېوادونو په کتار کې راغلی، چې دا د پانګوالو د باور په راکمېدو کې مهم رول لري. همدارنګه د څېړنې پایلې ښیي چې د قراردادونو شفافیت او د حساب ورکونې کمبود د خصوصي سکتور د ودې لپاره جدي خنډونه دي. په ورته شکل د څېړنې پایلې د خطر–عواید نظریه تاییدوي. د امنیت په برخه کې اندېښنې، د شتمنیو د خوندیتوب کمزوري میکانیزمونه، او د بهرنۍ پالیسۍ ناپایداري د پانګوالو ذهنیت باندې منفي اغېز کوي. د IMF (2023) راپور هم ښیي چې افغانستان د نقدو پیسو محدودیتونه، د صادراتو کمښت، او د بانکدارۍ سکتور کمزورتیا تجربه کوي، چې دې ټولو د پانګونې د خطر کچه لوړه کړې ده. څېړنې پایلې څرګندوي چې پانګه‌وال هغه هېوادونه غوره کوي چې خطر یې کم او عاید یې لوړ وي، خو افغانستان د لوړ خطر له امله د پانګوالو لپاره زړه نه ښه کوي او بلاخیره د څېړنې پایلې د ښه حکومتدارۍ نظریه تاییدوي. څېړنې پایلې څرګندوي چې د اسلامي امارت د حکومت شفافه پالیسي، معلوم قوانین، او منظمې اداري د پانګوالو د باور د لوړولو لپاره حیاتي ارزښت لري او باید جدي توجه ورته وکړي.

د دې څېړنې پایلې د پخوانیو څېړنو سره په څو برخو کې ورته والی لري. د Keane (2023) څېړنه ښیي چې په هغو هېوادونو کې چې سیاسي بدلونونه ډېر وي او د واک لېږد غیر منظم ترسره کېږي، پانګوال د اوږدمهالو پروژو په تمویل کې احتیاط کوي. د افغانستان وضعیت د دې څېړنې پایلې تاییدوي، ځکه چې د ۲۰۲۱ وروسته سیاسي بدلونونو د پانګونې اقلیم اغېزمن کړی. د Barfield (2022) څېړنه ټینګار کوي چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د سیاسي ثبات او قوي نهادونو پرته ناممکن دی. د دې څېړنې پایلې هم ښیي چې د نهادونو کمزورتیا او د حکومتدارۍ ضعف د پانګوالو د باور د ټیټوالي اصلي لاملونه دي. د WEF (2023) راپور څرګندوي چې د بشري حقونو محدودیتونه او د ټولنیز ثبات کمزورتیا د پانګونې پر چاپېریال منفي اغېز لري. د دې څېړنې پایلې هم ښیي چې پراخه بې‌کاري، او د مهاجرت لوړه کچه د اقتصادي فعالیتونو دوام ته زیان رسوي.
د دې څېړنې تفاوت له نور څېړنو سره په دې کې دی چې د افغانستان د پانګونې چاپېریال د سیاسي عواملو له څو اړخیزه زاویې څېړل شوی. پخوانۍ څېړنې زیاتره د سیاسي یا اقتصادي محور یوې برخې ته محدودې وې، خو دا څېړنه د سیاسي ثبات، نهادونو، حکومتدارۍ، خطر–عواید، او ټولنیزو عواملو ګډ اغېز په جامع ډول تحلیل کړی. د څېړنې پایلې څرګندوي چې د افغانستان پانګونې چاپېریال یوازې د اقتصادي عواملو تابع نه دی، بلکې ژوره سیاسي، اداري، او ټولنیزه معنا لري. سربېره پر دې، دا څېړنه د ۲۰۲۱–۲۰۲۶ د ځانګړو کلونو اقتصادي وضعیت په تسلسل سره تحلیل کړی، چې دا د پخوانیو څېړنو په پرتله یو نوی علمي ارزښت وړاندې کوي. د واک بدلون، د بحران دوام، د داخلي عوایدو زیاتوالی، د صادراتو پراختیا، او د اقتصادي ودې لومړۍ نښې په تسلسل سره څېړل شوي، چې د پانګونې چاپېریال د بدلونونو په درک کې مرسته کوي.

په ټوله کې، د دې مقالې موندنې دا تاییدوي چې په افغانستان کې د پانګونې چاپېریال د سیاسي عواملو تر اغېز لاندې دی او تر هغه چې سیاسي ثبات، نړیوال مشروعیت، متوازن بهرنی سیاست او د پالیسۍ دوام ټینګ نه شي، د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د پراختیا تمه به محدوده پاتې شي.

### ۵ـ پایله

د دې څېړنې پایلې په واضحه توګه څرګندوي چې د افغانستان پانګونې چاپېریال د ۲۰۲۱–۲۰۲۶ په موده کې د سیاسي عواملو له امله ژور اغېزمن شوی دی. د واک بدلون، په اسلامي امارت نړیوال بندیزونه، د مرستو سیاسي کېدل، د قانون د پلي کېدو په برخه کمزورتیا او نړیوالو اړیکو په برخه کې محدودیتونه چې د پانګوالو باور ته جدي زیانونه رسولي دي. څېړنه تاییدوي چې پانګونه یوازې اقتصادي پرېکړه نه ده، بلکې ژوره سیاسي، اداري او ټولنیزه معنا لري. د سیاسي ثبات، نړیوالو اړیکو زیاتوالی، ښه حکومتداري، قوي نهادونه او ټولنیز شمولیت پرته د پانګونې چاپېریال د پایښت وړ نه دی.
د څیړنې پایلې ښیي چې د افغانستان اقتصاد د ۲۰۲۱ د اسلامي امارت په راتګ سره د مالي زیرمو په کنګل کیدو سره له ځوړ سره مخ شو، د ۲۰۲۲ کال یاد ځوړ په خپل حال پاتي شو، د ۲۰۲۳ په داخلي عوایدو زیاتوالي او د ۲۰۲۴ په صادراتي خوځښتونو کې د سیاسي عواملو مستقیم اغېز تجربه کړی. دا تسلسل څرګندوي چې هر ډول اقتصادي پرمختګ د سیاسي شرایطو تابع دی. د پخوانیو څېړنو سره پرتله کول ښیي چې د افغانستان وضعیت د

نړيوالو نظريو لکه د سياسي ثبات، نهادونو، خطر–عوايد، او ښه حکومتدارۍ له اصولو سره سمون لري، خو نوی والی يې په دې کې دی چې د سياسي عواملو ګډ اغېز په جامع ډول څېړل شوی او د کلونو په تسلسل کې د پانګونې چاپېريال بدلونونه روښانه شوي دي.

د دې څېړنې پايله څرګندوي چې د افغانستان د پانګونې چاپېريال ښهوالی يوازې هغه وخت امکان لري چې سياسي ثبات ټينګ شي، نهادونه قوي شي، حکومتداري شفافه شي، او ټولنيز شموليت تضمين شي. د پاليسي جوړونکو، دولت، او نړيوالو بنسټونو لپاره دا پايله عملي پيغام لري: تر هغو چې ياد عواملونه اصلاح نه شي، د بهرني او کورني پانګوالو باور بيا رامنځته کول ستونزمن دي.

په ټوله کې، دا څېړنه د افغانستان د پانګونې چاپېريال د سياسي عواملو له زاويې يوه نوی علمي نقشه وړاندې کوي، چې نه يوازې د علمي مرکزونو لپاره ارزښت لري، بلکې د دولت او پانګوالو لپاره د عملي پاليسي جوړونې لارښوونې هم برابروي.

### ٦ـ ماخذونه


Abdullah, A., Amin, K., & Azim, A. (2023). *Exploring opportunities and challenges for international investment in Afghanistan's economic development*. Journal of Positive School Psychology, 7(5), 1016–1042.

Asian Development Bank. (2023). *Asian Development outlook: Afghanistan*. Retrieved from https://www.adb.org/countries/afghanistan/main

Asian Development Bank. (2024). *Asian Development outlook: Afghanistan*. Retrieved from https://www.adb.org/countries/afghanistan/main

Ghani, K. (2024). *The impact of Taliban rule on Afghanistan's economy*. Pukhtunkhwa Journal, 2(1), 327–340.

PeaceRep. (2023). *Afghanistan post-2021: The new political economy of growth*. Retrieved from https://peacerep.org

United Nations Development Programme (UNDP). (2022). *Afghanistan socio-economic outlook 2021–2022*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2023). *Afghanistan socio-economic outlook 2023*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2024). *Afghanistan socio-economic outlook 2024*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2025). *Afghanistan socio-economic review*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan/publications

World Bank. (2021). *Afghanistan development update: Socioeconomic impact of political transition*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

World Bank. (2023). *Afghanistan economic update: Revenue mobilization amid crisis*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

World Bank. (2024). *Afghanistan economic update: Trade and export developments*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

World Bank. (2025). *Afghanistan futures*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/brief/afghanistan-futures